د ALTA کالیفورنیا سیمه ییز مرکز
د ځان ټاکنې برنامه د ګډون کوونکي د 1 کال معلوماتي لیست

دا وسیله د ګډون کوونکو او د هغوی له کورنیو سره د دودیزو خدماتو څخه SDP ته د لېږد د پروسې په پلټنه کې مرسته کوي. ***SCs به پې په ټولو پراوونو کې دخیل نه وي.***

☐	ګډون کوونکي د SDP معلوماتي دوره بشپړوي	یاد معلوماتي دوره د ځان ټاکنې د برنامې **(SDP)** یوه لنډه کتنه او توضیحات وړاندې کوي. د SDP د معلوماتي دورې له بشپړولو وروسته، مهرباني وکړئ د خپلو خدماتو له همغږي کوونکي سره اړیکه ونیسئ ترڅو د معلوماتي دورې یو سند درته چمتو کړي او تاسو ته مشوري درکړي چې تاسو غواړئ په SDP کې ځانونه شامل کړئ. وخت: د مراجعه کوونکي په خپله خوښه دی.
☐	ګډون کوونکي مشوره ورکوي او یو خپلواک تسهیل کوونکی **(IF)** انتخابوي (اختیاري) هو ☐ نه ☐ که ځواب مو هو وي، **د** **IF** نوم: بربښنالیک: د تلیفون شمېره: د معلوماتو خپرول لاسلیک شوي او ثبت شوي (اړین دي): هو ☐ نه ☐	اړوند خپلواک تسهیل کوونکی (IF) کولی شي پر شخص باندې پر متمرکز پلان کې مرسته وکړي او SDP ته د لېږد په برخه کې همکاري وکړي. یو خپلواک تسهیل کوونکی د ګډون کوونکي له لوري ټاکل او هدایت کېږي او شاید د اړتیاوو په پېژندلو، د انفرادي بودیجې په اړه د باخبره پرېکړې په ترسره کولو، له IPP سره سم د خدماتو او ملاتړونو په ځای پر ځای کولو، لاسرسي او همغږي کې مرسته وکړي. د خپلواک تسهیل کوونکي لګښت به، که چېرې شتون ولري، د سیمه ییز مرکز له لوري د اعظمي حد د 40 ملاتړو ساعتونو لپاره ورکړل شي. دغه مالي تمویل یواځې SDP ته د لېږد مخکې شتون لري. اړونده ګډون کوونکی کولی شي یاد خپلواک تسهیل کوونکی وګماري ترڅو د لومړني SDP له لېږد څخه ور هاخوا کار وکړي او د لګښت د پلان له لارې د یادو خدماتو لپاره پیسې ورکړي. وخت: د IF د ټاکلو د خبرتیا له ترلاسه کولو سره، د خدماتو همغږي کوونکي به مراجعه کوونکي ته د معلوماتو یوه اعلامیه ولېږي. د دوو کاري ورځو په ترڅ کې به، د خدماتو همغږي کوونکی د رسید تصدیق وکړي او تایید به کړي چې کله د معلوماتو خپرول مراجعه کوونکي/خوندي کوونکي/سرپرست ته ولېږل شي. کله چې خپلواک تسهیل کوونکی د لېږد د وړاندیز شویو خدماتو او د ساعتونو د اټکل شوي شمېر په اړه لیکلي معلومات چمتو کړي، د خدماتو همغږي کوونکی به د 30 ورځو په ترڅ کې مراجعه کوونکي/ خوندي کوونکي/ سرپرست ته د IPP تعدیل چمتو کړي. کله چې اړونده تعدیل لاسلیک شي، د خدماتو همغږي کوونکی به د ACRC د خدماتو د پیرود (POS) له تګلارې او طرزالعملونو سره سم د یوې اوونۍ په اوږدو کې د تادیې لپاره پیرود وسپاري.

☐	ګډون کوونکی پر شخص متمرکز پلان کې برخه اخلي (اختياري)	دا پلان به د کال په پاتې برخه کې اړونده ګډوونکي ته لارښوونه وکړي. دا پلان د بوديجې د پراختيا او د لګښتونو په پلان کې د خدماتو د اړتياوو د پېژندلو لپاره هم کارول کيږي. پر شخص باندې متمرکز پلان لګښت به، که چېرې شتون ولري، د سيمه ييز مرکز له لوړي تر $1,000 پورې ورکړل شي. دغه مالي تمويل يوائځي SDP ته د لېږد مخکې شتون لري. وخت: کله چې د PCP او بيل ترلاسه شي، د خدماتو همغږي کوونکی به د 30 ورځو په ترڅ کې د IPP تعديل اړونده مراجعه کوونکي/خوندي کوونکي/سرپرست ته ولېږي. کله چې اړونده تعديل لاسليک شي، د خدماتو همغږي کوونکی به د ACRC د خدماتو د پيرود (POS) له تګلارې او طرزالعملونو سره سم د يوې اووني په اوږدو کې د تادېې لپاره پيرود وسپاري.
☐	د پلان جوړونې ډله د اړتياوو په اړه خبرې اترې کوي	د پلان جوړونې اړونده ډله د مراجعه کوونکي د اړتياوو په اړه خبرې اترې کوي. د خدماتو همغږي کوونکی به د اړتيا په صورت کې د خدماتو د ارزونې لپاره د اسنادو غوښتنه وکړي. د پلان جوړونې ډله به پر يوه ټاکلي وخت موافقه وکړي چې مخکې ولاړه شي که چېرې غوښتل شوي اسناد ترلاسه نه شي. د خدماتو همغږي کوونکی به د ټولو هغو خدماتو د غوښتنې لپاره مهالوېشونه شريک کړي چې د کمېټي بياکتنې ته اړتيا لري.
☐	د خدماتو همغږي کوونکی بوديجه جوړوي	د خدماتو همغږي کوونکی به د خدماتو د پلان جوړونې د ډلې د موافقې پراساس د بوديجې غوښتنه رامنځته کړي. اړونده بوديجه د سيمه ييز مرکز د بوديجو له مقدار سره مساوي ده چې په تېرو 12 مياشتو کې د خدماتو لپاره تصويب شوي او همدارنګه د پلان جوړونې د ډلې په غونډه کې د پېژندل شويو شرايطو د بدلون پراساس د نويو ارزول شويو اړتياوو سره مساوي ده. کله چې اړونده بوديجه جوړه شي، د خدماتو همغږي کوونکی به يې يوه کاپي اړونده ګډون کوونکي ته ولېږي. د پلان جوړونې ډله به د انفرادي بوديجې د محاسبې او تصديق د وسيلې **(IBCCT)** بياکتنه وکړي. کله چې اړونده مراجعه کوونکی يا د دوی قانوني استازی اړونده IBCCT لاسليک کړي، نو هغه تصديق کيږي. وخت: د پلان جوړونې ډله به د خدماتو د همغږي کوونکي لپاره د بوديجې د غوښتنې د رامنځته کولو لپاره د وخت په اړه موافقه وکړي. کله چې د خدماتو همغږي کوونکی د بوديجې غوښتنه وسپاري، نو دا به په څلورو کاري ورځو کې جوړه شي. د خدماتو همغږي کوونکی به بيا د دوو کاري ورځو په ترڅ کې اړونده ګډون کوونکي ته بوديجه چمتو کړي.
☐	ګډون کوونکی مشوره کوي او د مالي مديريت خدمات (FMS) خدمات انتخابوي	ګډون کوونکی د عرضه کوونکې FMS اداري پېژندنه کوي. اړونده FMS هغه يوائځينی اړين په SDP کې د سيمه ييز مرکز عرضه کوونکی دی. FMS د چمتو کونکو ته د پيسو ورکولو مسؤليت لري. ټول چمتو کوونکی، که سوداګری وي يا



		انفرادي کارکوونکي، بايد له اړونده مراجعه کوونکي له FMS سره يوځای شي ترڅو تاديه ترلاسه کړي. FMS به د ټاکنې د پروسې او چمتو کوونکي د اړتياوو په اړه لارښوونه وکړي. FMS او مراجعه کوونکی د دې د تصديق کولو مسؤليت لري چې اړونده چمتو کوونکي د هغو خدماتو لپاره وړ دي چې دوی يې د ترسره کولو لپاره ګمارل شوي دي. ګډون کوونکی د دې د تصديق کولو مسؤليت لري چې د دوی مطلوب چمتو کوونکي به له FMS سره يوځای شي او د SDP د ګډون کوونکي/مالي تمويل به ومني. ☐ **<u>د بيل تاديه کوونکی</u>** - FMS له هغو شرکتونو يا افرادو څخه بيلونه تاديه کوي چې - د يوه شرکت له لوري ګمارل شوي وي - ګډون کوونکی نه غواړي چې د خپلو کارګرانو مستقيم کارګمارونکی وي **FMS به شرکتونو ته د خدماتو او ملاتړ لپاره تاديه ورکړي** ☐ **<u>همکار- کارګمارونکی</u>** - سوداګری يا انفرادي کارکوونکي د خدماتو لپاره ګمارل کېدلی شي. - ګډون کوونکی غواړي چې د خپلو کارګرانو د کارګمارونکي په توګه له FMS سره شريک کړي - FMS د کارموندنې ټول قوانين تعقيبوي - FMS په کارموندنه پورې اړوند اړينه بيمه اداره کوي - د FMS ونډې د کارګمارونکي په توګه دي - ګډون کوونکی ډاډ ورکوي چې د وخت کارتونه سپارل شوي او تصويب شوي دي - ګډون کوونکی ډاډ ورکوي چې بيلونه سپارل شوي او تصويب شوي دي **FMS د شاليد او ورټياوو کتنه کوي او د کارګر د خسارې تګلاره ساتي.** ☐ **<u>يواځينی کارګمارونکی</u>** - سوداګری يا انفرادي کارکوونکي د خدماتو لپاره ګمارل کېدلی شي - **دا داسې ده لکه خپل کوچنی کاروبار چې ولرئ** - ګډون کوونکی غواړي د خپلو کارګرانو کارګمارونکی شي - ګډون کوونکی بايد په کارموندنه پورې اړوند هر ډول اړينه بيمه ترلاسه کړي - FMS به اړونده بيلونه تاديه کړي - FMS به د شاليدونو او ورټياوو کتنه وکړي - FMS له ګډون کوونکي سره د کارموندنې د ټولو قوانينو په تعقيبولو کې مرسته کوي - ګډون کوونکی ډاډ ورکوي چې د وخت کارتونه سپارل شوي او تصويب شوي دي - ګډون کوونکی ډاډ ورکوي چې بيلونه سپارل شوي او تصويب شوي دي **FMS کولی شي سرچينې چمتو کړي، خو دوی د کارموندنې د قوانينو مسوول نه دي** هر هغه ملاتړ کاري ډله چې د ګډون کوونکي له لوري ګمارل شوي وي او کار پيل کړي بايد د کار کولو مخکې له FMS سره خپل شمولیت بشپړ کړي. همدا د خدماتو په ټولو چمتو کوونکو هم پلي کيږي. وخت: د مراجعه کوونکي په خپله خوښه دی.



☐	ګډون کوونکی ورسره مرکې کوي او د ملاتړې کاري ډله او خدماتو چمتو کوونکي ګماري	ګډون کوونکی به مرکې پیل کړي او د وړ خدماتو د چمتو کوونکو ګمارل به پیل کړي. ګډون کوونکي کولی شي د خدماتو له دغو چمتو کوونکو سره د نرخونو په اړه خبرې اترې وکړي او د خدماتو یو قرارداد جوړ کړي. *ګډون کوونکی به د خدماتو له هغه همغږي کوونکي سره خبرې اترې وکړي چې کوم خدمات به د اړتیاوو د دوامداره ارزونې لپاره له خپلو چمتو کوونکو څخه نیم کلن یا کلني پرمختګ راپور ته اړتیا ولري. وخت: د مراجعه کوونکي په خپله خوښه دی.
☐	د کور او ټولنې پر بنسټ خدماتو **(HCBS)** موافقت	د DDS په وېب پاڼه کې د HCBS پر پراوونو بیاکتنه وکړئ. وروسته اصل که چیرې مراجعه کوونکی کوم معلول، د کومې ډلې اړوند، او د مرکز پر بنسټ خدماتو ته لاسرسی ولري، نو د ارزونې د وسیلې د بشپړولو لپاره له اړونده چمتو کوونکي سره وګورئ. د تنظیم د ارزونې وسیله بشپړه کړې او بیا یې خپل FMS ته ولېږئ. ټول چمتو کوونکي باید له HCBS سره موافقت ولري. وخت: د مراجعه کوونکي په خپله خوښه دی.
☐	ګډون کوونکی د لګښت اړوند پلان جوړوي	د لګښت پلان د ګډون کوونکي له لوري د دې د یوې طرحې په توګه رامنځته کیږي چې څرنګه به د IPP پایلې له ټاکل شویو خدماتو سره ترلاسه شي. د لګښت اړونده پلان اړتیا لري چې پکې اړونده خدمات، دا چې څو ځله به یاد خدمات اخیستل کیږي، د SDP د خدماتو کوډونه، او د هر خدمت او ملاتړ لګښت چې اخیستل کیږي، ورسره به د نومبر 25مې، 2025 نېټې د ځان ټاکنې لارښود هم شامل وي (D-2025-د ځان ټاکنې برنامه-003). د Alta د لګښت د پلان معلوماتي لښت په لاندې لینک کې موندلی شئ: د ځان ټاکنې د برنامې د لګښتونو د پلان معلوماتي لښت - د Alta کالیفورنیا سیمه ییز مرکز. د لګښت د اړونده پلان ټوله اندازه د انفرادي بودیجې له اندازې څخه زیاته کېدلی نه شي. وخت: د مراجعه کوونکي په خپله خوښه دی.
☐	ګډون کوونکی ستاسو د خدماتو له هغږي کوونکي سره د لګښت پر اړونده پلان بیاکتنه کوي	اړونده ګډون کوونکی به د خدماتو له همغږي کوونکي سره د لګښت پر پلان بیاکتنه وکړي ترڅو پر دې خبرې اترې وکړي چې څنګه به له اړونده پلان شویو خدماتو سره پایلې ترلاسه شي. کله چې د اړونده خدماتو همغږي کوونکی د لګښت د اړونده پلان په اړه

		د ټولو خدماتو معلومات ولري، دوی به د SDP قانون، لارښوونو او تعریفونو سره پر سمون لپاره بیاکتنه وکړي. کله چې د ټولو خواوو له لوري موافقه وشي، د لګښت پلان لاسلیک کیږي او اړونده FMS ته لیږل کیږي. وخت: د لګښت د پلان له ترلاسه کولو سره سم به، د خدماتو همغږي کوونکی د دوو کاري ورځو په ترڅ کې له اړونده ګډون کوونکي سره د ناستې مهالوېش برابر کړي. د لګښت د اړونده پلان لومړنۍ سپارنه به د پلان جوړونې د کاري ډلې د غونډې وروسته د دوو اوونیو په ترڅ کې تر بیاکتنې لاندې ونیول شي. که چېرې یو بیاکتنې یا سمون ته اړتیا وي، نو هر ډول راتلونکې سپارښتنې به د خدماتو همغږي کوونکي ته وسپارل شي. د خدماتو همغږي کوونکی به د دوی د شتون په اړه خبر ورکړي او د بیاکتنې لپاره به تر ټولو ژر وخت وړاندې کړي.
☐	ګډون کوونکی به د خدماتو له همغږي کوونکي سره د SDP IPP غونډه ولري	د IPP غونډه به د نورو تازه معلوماتو سرېره د خبرو اترو او موافقه شویو پایلو د مستند کولو لپاره ترسره شي. د IPP د ټرون فورمه به لاسلیک شي کومه چې د لګښت پلان او FMS پیرودونه بیانوي. د IPP د ټرون له لاسلیک کولو سره به، اړونده ګډون کوونکی د پیل په موافقه شوې نېټه باندې په SDP کې شامل شي. وخت: د W&I له 4646(g) قانون سره سم، ACRC نه شي کولی چې تر هغه وخته پورې د خدماتو اجازه ورکړي تر کومې چې د IPP د ټرون فورمه لاسلیک شوې نه وي. له همدې امله، اړونده IPP باید SDP ته د داخلېدو مخکې ترسره شي.

نور ګټور لینکونه:

د پراختیايي خدماتو څانګه (DDS)	**SDP-** ډېرې پوښتل شوې پوښتنې